# د سوهېلي پښتونخوا په جدید غزل کښې د نېشنلزم څرک: یو عمومي جاج

**"An analysis of Nationalism in the Modern Pashto Ghazal of Sothern Pashtonkhwa"**

اختر محمد مسرور*

**Abstract:**

Nationalism has been one of the core determinants of the socio-political history of human societies. The concepts and practices pertaining to nationalism have long been persisted. The modern wave of nationalism is witnessed from the late 18th century Europe. The French revolution followed by the political and scientific awakening shaped the modern nation state.

Pashto language, culture and literature contains the historical reminiscent of nationalism. Khushal Khan Khattak the mid-17th century poet, warrior and scholar coined the ideas of Pashtun's self-rule and nationalism. Pashto literature afterwards encapsulates the concepts of Pashtun nationalism. The themes of on this specific subject became frequent in the mid-20th century.

This paper is going to present the glimpses of the nationalism in the contemporary Pashto Ghazal.

**Key word:** Nationalism, Pashto Poetry, Modernity, Politics, Pashto Ghazal.

**پېژندګلو:**

د انساني ټولني د ارتقا پړاوونه موږ ته داحقیقت راپه ګوته کوي چي د خپلي بقا لپاره انسانانو په ډله ایزه او ټولنیزه توګه هڅي کړي دي. د ښکار په زمانه کي انسانان په ډلو کي اوسېدل، د هغه وروسته په زرعي زمانه کي هم د ګډ ژوند ژواک ضرورت ؤ، او کله چي نړۍ و صنعتي دور ته داخله شوه نو انسانان د خپلو خپلو قبیلو څخه را مات شول او په ښارونو کي مېشته شول، دلته یوه نوې ښاري ټولنه په وجود کښې راغله. ټولنه ورو ورو د باچاګردۍ څخه را ؤ وته او انسانانو د رنګ و نسل د توپیرونو پرته د بنیادي حقونو طلب پیل شو.دفرانس انقلاب په نړۍ کښې د زرګونو کلونو پخوانی نظام را ړنګ شو. د جدید قومي ریاست تصور رامنځ ته شو، او د دې سره په کومه خاوره چي کوم خلګ مېشته وو، یوه ژبه ، کلتور وشناخت او تاریخ یې درلود ، هغوی د یوه قومي ریاست د رغولو لپاره هڅي او مبارزې پیل کړې. نوی قومیت یا جدید نیشنلزم تصور د هم دې ځایه څخه راپیل شو.د یورپ فکري او تکنیکي بیداري نړۍ په بله واړوله او په دنیا کي جدید قومي ریاستونو رامنځ ته شو. د هندوستان او په تېره په پښتونخوا وطن کي د نوي قومیت تصور رامنځ ته شو، چي د یورپي نوابادکارۍ په ضد یې مبارزه پیل کړ. د خپل شناخت، کلتور، تاریخ، ژبې ، تاریخ، او سیمي او پر

---

* M.Phil.Scholar, Department of Pashto, University of Balochistan, Quetta

خپل خاره د خپل اختیار لپاره مبارزه پیل شوه. پښتو ادب ، په تېره بیا د شاعري ورو ورو د نوي قومیت و موضوعاتو ته ځای ورکړ، او د دې سره سره د وطن مینه، د اولس د حالاتو د بدلون او د سیاسي بدلون له لارې پر خپلو وسایلو او معیشت د اختیار لپاره مبارزه پیل شوه. شاعري او خصوصا غزل په دې حکله یو تاریخي یون کړی دی، چې په دې مقاله کښې ورباندې بحث شوی دی.

**قومیت څهٔ ته وایي؟**

قوم یو ټولنیز تخلیق دی کوم چې د انساناني تاریخ په اوږدو کې یې بېل بېل تعریفونه شوي دي. قومیت د یو قوم د ګډو یا اجتماعي ګټو سره تړلی وي. که په لنډه توګه و وایود قومیت تصور او نظریه د اولسونود ګډ شناخت،معاشي اوکلتوري ګټو، او سیاسي اختیار سره تړلی دی. د انګریزي لیکوال سمیت انتوني په خپل کتاب نشنلزم تهیوري، ایډیالوژي، هستري کې په دې حکله داسې لیکي:

> "Nationalism is an ideology that places the nation at the center of its concerns and seeks to promote its well-beings."(1)

**ژباړه**: قومیت یوه نظریه ده کوم چې د یو قوم د ګډوانګېرنو او پر مختګونو مرکزیت ته اولیت ورکوي.

یعني قوم د وګړو یوه داسې ډله وي چې د خپل حالت او حېثیت د بدلون لپاره په ګډه حدفونه ټاکي،د هغه لپاره تګ لاره وضع کوي، او بیا د هغه تګلارې لپاره مبارزه پیل کوي.

د قومیت تصور که څه هم موږ په پخوانیو او کلاسیکي متنونو کې وینو ، په پښتو شاعرۍ کې د خوشحال بابا او د هغه وروسته شاعري، موږ ته د پښتون قومیت بشپړه کره وړه را پېژني، خو د جدید قومیت تصورات موږ ته د یورپ د بېدارۍ په کلونو کښې په مخه راځي. په دې حقله ایوګل کمینکا په خپل کتاب (Nationalism the nature and evolution of an idea)کښې لیکي:

> "From the fourteenth to the eighteenth centuries in Europe, this rise of national consciousness and of a feeling that nations are the basic social and cultural units of society gained force. Economic developments were transforming the domestic economy of the rural manner and the urban guild into a national economy." (2)

**ژباړه**: له څوارلسمې تر اتلسمې صدۍ پورې په اروپا کښې دقومیت شعور راڅپور شو. اولسونو ته یې دغه احساس ورکړ چې قومونو د ټولنېز او کلتوري ارزښتونوپه صورت کښې فعالیت ومونډ ، معاشي پرمختګونو، کورني او کلیوال اقتصادونه په قومي معیشت واوښتل .

د دې څخه یوه خبره جوته شوه چې قومي فکر، احساس او شناخت د یوه ټولنیز اوکلتوري عمل په نتیجه کښې خپله بڼه تشکیلوي.

د قومونو په جوړیدو او پائیداره کیدو کښې د معیشت ژوره ونډه ده. خو د یوه قوم په قومیت کښې بدلیدو دپاره دا لازمي ده چې د یوه قوم کلتور، شناخت، تاریخ، عنعنات سره مشترک وي. خو د قوم قومیت په معاشي توګه تړون هلته کیږي چې د قوم معیشت له کورنۍ او کلیوالې بڼې څخه په قومي معیشت بدل شي. ګوا که د قومیت دپاره د کلتور او ټولنیز نفسیاتي ژبه، جغرافیه سره قومي معیشت هم اړین دی .

**نوی قومي ریاست او د قومیت نظریات**:

د یورپ د بیدارۍ او په تیره بیا د فرانس د انقلابه را وروسته په یورپ کې د اولس واکۍ تصور خپور شو. د ساینس او ټیکنالوژۍ په مرسته چې کله د یورپ قومونو پر نوره دنیا غلبه پیل کړه نو د مرکزي یورپ ملکونو په خپل داخل کې د نوي قومیت تصور راوړ، چې اساسی توکي یې د خاوري یا جغرافیې پیوستون، د ژبې یووالی، د اجتماعي فکرونو یوالی، د کلتوري او تهذیبي پانګې اشتراک یې اولنې کړه وړه وو. په دې حقله ډي، انتوني په خپل کتاب "نېشنلزم" کښې مخ ته داسي لیکي:

> “As a process of nation-building and as an ideology and movement, nationalism, national autonomy, unity and identity, are relatively modern phenomena, which have placed at the center of the political stage. The sovereign, united and unique nation, and have made over the world in their image.” (3)

**ژباړه**: قوم جوړیدنه د یوه عمل یا پراسس سره اړه لري. نظریې، تحریکونه، قومیت، قومي خودمختاري، یوالی، هویت او د هغه اصولونه په بشپړه توګه یو جدید حقیقت دی، کوم چې د یو منظم سیاسي اقتدار، د یوائیني قوم او د نړۍ پر کچه خپل یو انځور ته دوام وربخښي.

په جدید نېشنلزم کښې یو مهم کار دا وشو چې اولسونو د قوم پر بنیاد حکومتونه او ریاستونه جوړ کړو. د اتلسمي پیړۍ له پای سره په مغربي یورپ کښې د قوملۍ پر بنیاد بېل او نوي قومي ریاستونه جوړ شو. خو د دې تر څنګ د نوي قومیت تاریخي بنیادونه په رڼا کښې هم دغو قومي ریاستونود خپل قوم د کلتور، ژبې او د ټولنیز و اقتصادي غوښتنو له کبله دې ټولو ته د ریاستي سرپرستۍ له اړخه په منظمه توګه کارشروع کړو. په اروپا کښې په لومړي سر کښې د قوملۍ پر بنیاد د ریاستونو پیداوار هم د جاګیرداري نظام پیداوار او د مذهبي استعماریت په ضد را منځ ته شو. په دې حقله کوهن هانس (Khon, Hans)داسي لیکي:

> “Actually, the American and French revolutions may be regarded as its first powerful manifestations. After penetrating the new countries of Latin America, it spread in the early 19th century to central Europe and from there, toward the middle of the century to eastern

and south-eastern Europe. At the beginning of the 20th century has been called the age of nationalism flowered in Asia and Africa. Thus 19th century the age of nationalism in Europe, while the 20th century witnessed the rise and struggle of powerful national movements throughout Asia and Africa.”(4).

**ژباړه**: " په حقیقت کې، د امریکا او فرانسې انقلابونه د هغه لومړنی ځواکمن څرګندونه ګڼل کیدی شي. د لاتیني امریکا نویو هیوادونو ته د ننوتلو وروسته، دا د 19مې پیړۍ په لومړیو کې مرکزي اروپا ته او له هغه ځایه د 20 مې پیړۍ په مینځ کې ختیځ او سهیل ختیځ اروپا ته خپور شو. د شلمې پیړۍ په پیل کې په آسیا او افریقا کې د نشنلیزم د خپرېدلو دور بلل کیږي. په دې توګه نولسمه پېړۍ په اروپا کې د ملتپالنې زمانه وه، په داسې حال کې چې شلمه پېړۍ په ټوله اسیا او افریقا کې د ځواکمنو ملي خوځښتونو د ودې او مبارزې شاهده وه.

**پښتو جدید غزل کښې د قومیت ارتقائي تصور**:

پښتون قومیت په شاعري کښې په لومړي ځل د خوشحال خان خټک څخه پیل اخلي ځکه خو خوشحال خان خټک د پښتون نېشنلزم باني هم ګڼل شوی دی . خوشحال خان خټک دغه کمال کړی وو چې د شعر په ژبه یې قومیت په خپله شاعري کښې څرګند کړ. د ده په شاعري کښې د نورو بېلابېلو موضوعاتو تر څنګ موږ ته د پښتون قومیت کره وړه او تصورات ډېر واضح ښکاري . د بېلګې په توګه یې شعرونه ,,د خوشحال خان خټک کلیات، ،څخه را اخلو :

"هره چار د پښــــــــتانه تر مغول ښه ده
اتفــــــــــاق ورڅخـــه نشته ډېر ارمان
د بهلول او د شېـــــــــرشاه خبرې اورم
چې په هند کې پـــــښتانه وو بادشاهان
شپږ، اووه پـــېړۍ یې هسې بادشاهي وه
چې په دوی پورې درست خلک ووحېران
که توفیـــق د اتفـــــاق پښتانه مومي
زوړ خوشـحال به دوباره شي په دا ځوان"(5)

د خوشحال بابا دور ته په عمومي توګه د پښتو ادب زرین دور ګڼل کیږي. په دغه دور کي پښتو شعر د فارسي شعریاتو څخه نه داچي بېل شوی دی بلکه د پښتو شعر قد دومره اوچت شوی دی چي د

فارسي او عربي شعر سره سر وهي. په کلاسيکي دور کښې د خوشحال دغه تصورات بيا نورو کلاسيکي شاعرانو پر مخ وړي دي.

په پښتو غزل کښې د قوميت تصور هغه وخت نور هم پر مختګ وکړکله چې د شلمې پېړۍ په لومړۍ نيمه کښي د پښتو ليکلو او سياسي مبارزې کار سره پېوند شو. د دې دورې د پېل په شاعرانو کښې امير حمزه شينواری،ملا عبد السلام بابا ، بهاي جان، سمندر خان سمندر، ايوب صابر، مخفي صاحب،او نور. هم دغه ډول د شلمي صدۍ په دويمه برخه کي قلندر مومند ،اجمل خټک،درويش درانی، سيد خېرمحمدعارف، سيف الرحمان سليم،صاحب شاه صابر او رحمت شاه سايل د يادونې وړ دي . له دې سره د هر شاعر په غزل کښې له جديديت سره سره قوميت هم پراخ اثر لري . د بېلګې په توګه د څو نماينده شاعرانو شعرونه را اخلوچې د حمزه شينواري کتاب ,,غزونې،، څخه بېلګه داسې ده .

" تـــــل به په لار د مېړنو سره ځم
يمه پښـــــتون د پښتنو سره ځم
وائي اغيار چې د دوږخ ژبه به ده
زه به جـــــنت ته د پښتو سره ځم
کړمه جـهان چې د پښتون زلمي
د خپلو پـــېغلو حوصلو سره ځم
حمزه سفر کـه د حجاز وي نو هم
زه د پښـــــتون د قافلو سره ځم"(6)

سيف الرحمان سليم هم په خپل کتاب ,,سندريز شفقونه،، کښې د قوميت تصور داسې څرګندوي .

"پښـــــــتانه د پښتونخوا درانه ښاغلي
د مـــغلو ســـــــــيلاب يوړل لکه خلي
زمانه راپســـــــــــې توره په لاس ګرځي
لکه مـــــــــا يې چې وي پلار نيکه وژلي
ما په دار کړئ چې منصور خلګو ته ياد شي
مودې وشـــــــوې څوک په دار نه دي ختلي"(7)

قلندر مومند په خپل شعري کتاب ,,سباون،، کښې د قوميت تصور داسې انځوروي :

"د وطن ګټې له زړه کښې ځائې ورکوم
د زړه پـــــه ســــر د صنم نام په کار دی

فتنو ته وایه چـــې قیامت راکوز کړئ

زمونږ په هـــر یؤ قیمت قام په کار دی"(8)

اجمل ختټک د قومیت د تصور یو ښکاره او ځانګړی انداز لرونکی شاعر وو چې ,,د غیرت چیغه، ،نومې مشهورکتاب کښې داسې لیکي :

"اې خـــــړو خاورو اوچو ډکـو واورئ

زمـــانه تاســـو هېـــرولـــــی نه شي

غـــــړوندی څـــټ ته اچوی شم منم

ولولـــې، هیــــځ زنځـــیر تړلی نه شي

خوله مې دي ماته کړي رښتیا پرې وایم

پـــښتو، پښـــــتو ده ورکېدلی نه شي

وېـم د دې لوی کور انغری دي جوړ شي

خېـــــــر دی که پاتې زما ځلی نه شي"(9)

د صاحب شاه صابر لاندینۍ غزل را اخلو چې د پښتو د جدید غزل کښې د قومیت ارتقائي تصور ځیني واضح او څرګند دی کتاب"قومتونه قیامتونه".

"څوک یې اشرو له بـــوزي څوک ترې لښکر جوړوي

هـــــر زورو د پښـــــــــتنو د پاره شر جوړوي

د پښـــــــــتنو ځمـــــــکه به څۀ فصلونه و ټوکوي

څوک پکښې جنګ جوړوي څوک پکښې سنګر جوړوي

داســــي څوک نشته چې په دې ورانۍ کې لاس نه لري

داسي څـــــــوک نشته چې کابل او پېښور جوړوي"(10)

د قومیت د تصور په حقله په معاصر دور کښې د پښتو نوموړی شاعر رحمت شاه سایل دی چې ټوله شاعري یې د جدید قومیت انځورګري کوي او په دې لړ کښې یې شاعري بشپړ قومپاله کړې ده . د ده له کتاب ,,نرګس بیمار بیمار ، ، کښې داسې لیکي :

"دا خاوره پښـــتنه ده، کور او اور د پښتنو دی

پښتو پکـــې پکار ده او پښتون پکې پکار دی

حالاتــــــو ترې زمونږه د ویستو تابیا ده کړې

خومونږله فیصله کول دی شـتون پکې پکار دی
کـــوروونه پښتـــــانه دي خـو د ځانه بېګانه دي
د خپلې فسلسفې یو افـــلاطون پکې پکار دی"(11)

د پښتو جدید غزل د موضوعاتو له اړخه ډېره غني ده. په پښتو غزل کښې نوي رجحانات، فکري ارتقا، نوي تصورات، خیالات او نظریات منځ ته راغلي دي . د پښتو د جدید دور غزل خپل کلاسیکل بنیادونه سره ترلي او پیوست ښکاري. خو د جدید دور د حالاتو سره د پښتو غزل نوي او په بېل انداز مطالب په ځان کښې نغښتي دي . که چېري د پښتو کلاسیک غزل او د جدید غزل تر منځ په ځېر کتل وشي نو دا به څرګنده شي چې د پښتو جدید غزل له کلاسیک څخه بېل نۀ ده خو د مطالب او خیالاتو له اړخه یکثره جلا او ځانګړی حیث لري. دا په دې چې د پښتو جدید غزل علامات د جدیدي دورې سره نوی رنګ خپل کړی دی. د کلاسیک غزل علامتونه دلته په نوي رنګ او هم داسي د جدیدي دورې سره نوي نظریات یا فکرونه ځای پر ځای شوي دي او بله خاص خبره دا هم ده چې په دې دور کښې پښتو غزل د پښتنو رنګ اخستی دی او غزل د پښتنو له نفسیاتو او احساساتو سره څنګ وهلی دی په نسبت د کلاسیک غزلي چې پکښې د عربي، فارسي رنګ جوت ښکارېدو په دې هکله سلیم راز په خپل کتاب "ادب او تنقیدي مسایل" کښې لیکي.

> "نوي دور کښې یعني د جدید ادب په غزل کښې د حالاتو د بدلیدو سره ډېر داسي څۀ راغلل او د غزل روایاتي مضامین او زاړه تصورات ئې په شاه وتمبول، نوي خیالات، تصورات او نظریات مخي ته راغلل او ځان سره ئې نوې لهجه، نوی انداز او نوې رویه راوړه او دې بیا د خپل ضرورت تر مخه او د عصري تقاضو په حواله نوي الفاظ، نوي اصطلاحات، نوي محاورې، نوي تشبیهات، استعارې، کنایې او علامات تخلیق او استعمال کړل او په غزل کښې ئې په کیفیتي لحاظ انقلابي بدلون راوست." (12)

په پښتو جدید غزل کښې د ګڼو نوي مطالبو، رجحاناتو، نظریاتو تر څنګ د قومولۍ اثر ښېخي ښکاره دی، یو خوا د پښتو غزل په خپلو علاماتو پوښلې ده چې له کبله ئې د غزل لوازمات او تصور پښتون شکل اخستی دی. بل خوا په غزل کښې رومانیت د قومولۍ په انداز کښې بیان شوی دی . لکه مخکي چې مو ووئیل چې د پښتو غزل په جدیده دوره کښې د غزل علامتونه د پښتنو د سیمو او جغرافیو په انداز کښې بیان شوې ده. قد، بانه، نظر، کاکل دا ټول په تشبیهاتو کښې د پښتنو د جغرافیائي، کلتور او قومي تصور سره مخي ته راغلي دي د پښتو د جدید دور په غزل کښې تر ډېره حده موضوعات، علامات او نظریات قومي دي او دا یقیني ده چې په هغه وخت د پښتنو د خارجي عوامل د دې سبب جوړ شوي دي چې پښتو غزل ته د رومانویت سره ګډ مزاحمت هم داخل شوی وي

هغه مزاحمت چې قوميت ته وده ورکوي او غزل د قومولۍ شکل اخستی دی او له دې پرته پښتو غزل په پښتو ژبه او د پښتنو په سيمه يا جغرافيه کښې د پښتنو له نفسياتو سره وتړل شو چې دا په خپله د قومولۍ جوت او ښکاره عامل دی. دا يوه فطري خبره ده چې د يوه شاعر په شاعري کښې به د خپل قوم نفسيات(قومي،اجتماعي حافظه)، کلتور، د جغرافيې اثرات ښکاره او څرګندوي. نو شاعر د خپل نسلي او ژبني شناخت سره د مينې پر اساس د خپل قوم طرفداري کول يو فطري عمل ګڼي. په دې هکله طاهر ځلاند په خپل کتاب "د پښتو غزل تنقيدي جاج" کښې ليکي:

"د پښتو غزل په ارتقا کښې له ابتدا نه د دوو شيانو لوی لاس دی، يو مزاحمت او دوهم رومانويت يو ځل بيا د پښتو غزل په نوي انداز او نوې جامه کښې راښکاره شو او يو ځل بيا د پښتو غزل د ارتقا دور پېل شو، بل طرف په کې د قوم پالني جديد ښه په جوبن ده که يو طرف پښتو غزل د لفظونو له مخې پښتون شو بل طرف ئې نفسيات هم پښتنانه شول لنډه دا چې پښتو غزل هغه ټول موضوعات قبول کړي د کومو چې شلمه عيسوي پېړۍ کي رجحانات عام شوي وو"(13)

**د سوهېلي پښتونخواپه جديد غزل کښي قوميت:**

دا چې قوميت د احساس ، جذبه او فکر سره تړلی يو مظهر دی ځکه نوله يوې ټولنې ،کور او چاپېريال سره جذبات مربوط ساتل عين فطري ښه خپله کړي. شاعر حساس وي و خپل احساس ته د شعر جامه ور واغوندي. کله چي د پښتون قامپالَ غورځنګونه او ګوندونه د خپلو قومي پوښتنو په حکله اواز اوچت کړي نو دغه اواز د شاعر پر نفسياتو نېغ په نېغه اغېزه وکړي.

د نورو سيمو غوندي سوهېلي پښتونخوا په جديد غزل کښې د قوميت څرک ډېر واضح نخښې لري. په اکثرو غزلونو کښې په شعوري او لاشعوري توګه شاعرانو د خپل قوم ، هېواد ، دود، کلتور او د ژبې سره د پت پالنې موضوعات څېړلي دي.

په دې حقله لال پاچا ازمون په خپل کتاب,, پښتو نظم پوهنه،، کښي ليکي :

"د غزل يوه ځمکه د سوهېلي پښتونخوا ده چي غزل يې ځانګړې کيف او رنګ لري د سوهېلي پښتونخوا غزلبولو غزلې زياتره د پښتني چاپېريال او پښتني ژوند انځور لري "(14)

د سوهېلي پښتونخوا پښتوجديد غزل ابتدا په حقله په ليکنځې مجله کښې عبدالکريم بريالی په خپله مقاله"د سوهېلي پښتونخوا د ادب زرکلن جاج " تر سرليک لاندې داسې ليکي :

"د جديد شاعرۍ هر شعر د انسان دننه زړۀ او د هغه د ژور احساس ترجماني شروع کړه که څۀ هم اثر يې په نژدې روايتي لهجو وشو خو له هغه ځايه نه ښوربدل مګر د غزل جديد فکريې د خپلو تقاضاو سره مخ په وړاندې روان شو.د جديد شاعرۍ اجتهاد فني هم وو او معنوي هم"(15)

د سوهېلي پښتونخوا د جدید غزل په ابتدائي دوره کښې ځیني داسې شاعران او بیا په خاصه توګه د غزل شاعران راغلي دي چې غزل ته یې ځانګړی مقوم وربخښلی دی.د ښېلګي په توګه پروفیسر راز محمد راز د سوهېلي پښتونخوا ښېین اوسېدونکی دی. د راز محمد راز د شاعرۍ تر څنګ د پښتو کیسه ایز ادب لیکوال هم دی د غزل و نظم خالق هم دی .

"بل یو نــسل دي بې تـــوري وینــم خاکه
ستا زلــمیان فقط ګناه ته شــباب غواړي
وخت رهبــر له سپـېرو خلګو څومره بېل کړ
قومیې هېر کړی جنډه غواړي القاب غواړي"(16)

په د غه دوه شعرونه کښې راز محمد راز خپل قوم ته مخاطب دی چې د دې قوم راروان بل نسل بې توري ویني اود قوم زلمي فقط ګناه کولو ته ځواني غواړي او ورسره په دې بل شعر کښې شاعر د قوم و رهبرانو خطاب کوي چې د حالاتو سترېو او نزاکتونو رهبران د قوم له سپېرو خلکو نور بېل کړ صرف د شعار او القابو کتېلو تره حده محدو پاتې شو چې د رهبر پر کردار نیوکه کوي .

اروابناد سعید ګوهرد سوهېلي پښتونخوا د جدید غزل یو پیاوړی نوم بلل کیږي د ګوهر غزل جدیدیت لري په خصوصي توګه په غزل کښې د جدید استعاراتو،کنایي،د موضوع ژوندۍ بڼه او د موضوع په اعتبار د مضمون واضح منظر د غزل ښایستګي ده. د سعید ګوهر په غزل د ګڼو موضوعاتو په لمن کښې د قوملۍ تصور هم نغښتی دی ،قوملي یې د وطن سره د میني ، د خپل کلتور سره تړون،په قومي او وطني فکر ویاړ یې د قوملۍ واضحه نخښې دي .سعیدګوهر په غزل کښې خپل ځانګړی اسلوب خپل کړی دی دغزل ژبه یې ساده ده چې پکښې د کلیوالو سیمو او په خصوص د کاکړۍ لهجې کلیوال او غرنیز تورې زیات خو په خوندور شاعران انداز کارولي دي .د ده له شاعرۍ کتاب ,,په ایرو کښې پټ انګار،، څخه د ښېلګي په توګه د غزل څو داسې شعرونه را اخلو چې قومي تصور ځیني واضح کیږي .

"د خپــلې خاورې په هوا کي تازګي ده ډېره
په خــپل ولات کي د یوه سات زندګي د ډېره
ستا په غـــزل کي زندګي ده د غزل ، ګوهره!
ستا په لهجه کي د الهام بې ساختګي ده ډېره"(17)

د یوې بلې شعري مجموعې ,,په څیري لمن کي امېد کښې،، سعید ګوهر د غزل په انداز د قوملۍ پېژندګلوي څهٔ داسي کوي :.

"که مي په عجز کي ته شک لرې،انسان به نه یم
تر اوســــــه پوري به ناپوه یم،سخندان به نه یم

د بل له لاســـــه مي لاس نه رسي تر خپله لاسه
که بيرته نه شـــومه آباد ، افغانستان به نه يم"(18)

درويش دراني د سوهېلي پښتونخوا د جديد غزل له هغو شاعرانو دی چې په غزل کښې يې د پښتون وطن په لر او بر کښې ځانګړې مقوم لري په غزل کښې يې خوږلت دی د غزل ژبه يې ساده او روانه ده خو د غزل مطالب يې ځانګړي.علمي.هنري،جملياتي او فکري بيداري لري .د موضوع په اعتبار يې په غزل کښې قومولي نغښتې وي دلته د درويش دراني له ببلابېلو غزلونو څخه څو څو شعرونه را اخلو او پکښې د قومولۍ څرک لټوو .د ده د شاعري له کتاب ,,ستوري په لمن کښې داسې ليکي :

"غاصـــب زما وطن ته راغی وو تر ډېره دلې
خو ککرۍ يې کړه د تلو په وخت کي هېره دلې
مور و زامــنو ته دا وائي چې د جنګ ميدان ته
سرونه يو سئ مګر پرېږدئ د سر وېره دلې" (19)

د يوبل غزل په شعرونو کښي د خپل وطن،قوم،تهذيب و تمدن د تړون پر اساس د خپلې خاورې د بې وسۍ انځور داسې ږدي :

"دا چـــي ځړيږي مخامخ درته په دار سرونه
په دې وطـــن کي بس هم دغه وو د کار سرونه
وړي يې هسي هم غاصب همېشه وړي په زوره
کشکـــي دا ځل زمونږ غنم وکړي د مار سرونه
تر ســــــېتوب د زرو قدر يو په زره زيات سو
دلته واړه ښکاري درويشه تر دينار سرونه"(20)

سيد خير محمد عارف د لورلايي (بوري) اوسېدونکی دی . عارف د نثر او تحقيق تر څنګ د نوي جديد غزل ليکلو شاعر هم دی . د عارف شاعري په مجموعي توګه عام فهمه،ساده او روانه کليوالي لهجه کښې وئيل شوې ده . خو د شاعرۍ مخصوص ذوق يې په شعرونو کښې له ورايه څرګنديږي لکه د مناسب الفاظو انتخاب ،د توريو خاص ربط يې شاعرانه کمال دی . د عارف شاعري همه ګير موضوعات لري په خاصه توګه په غزل کښې يې د هر شعر جلا جلا مضمون وي ، په غزلياتو کښې يې د خپل وطن او خاورې سره د ميني تړون، د خپلې خاورې د انسانانو بې وزلي ، له کړاونو ډک ژوند ،د پښتنې احساس اظهار،د ميني هيئت په خپل پښتنې چاپېريال کښې يې په ډېر هنر سره ځای پر ځای کړی دی . سيد خير محمد عارف له شعري مجموعې ,,دېوالونه ويښ دي ،،څخه د غزل يو څو بيتونه را اخلو او پکښې د قومولۍ انځور لټوو :

"څـــــومره ډېره مجبوري ده له قاتله درمان غوارم

د وطــــن و زلېـــــخا ته بې یوسفه کاروان غوارم

که مي جرم دی هم دا دی، که مي سر مات دی په د دی

د پښــــتون وطن لیلی له تته غوارم پېزوان غوارم"(21)

اروابناد افضل شوق د سنځاوی زیارت اوسېدونکی وو دشوق شاعري په مجموعي توګه د میني او رومانس ،اصلاحي شاعري او د خپل ولس او قوم سره بې فنا میني عکاسه شاعري ده . جمالیاتي شاعري يې هم د قوم او ولس په میني کښې اغښلې ده . د غزل فني ښکلا يې بشپړ ده . د شوق په غزلیاتو کښې د پښتو ژبې ،پښتنې دود ،پښتنې روایت،د ستایلو سره سره د غزل فني ښکلا يې هم په وزن،بحر او مضمون هم پوښلې ده . د شوق شاعري په عمومي توګه هر اړخیز موضوعات لري . د ده له کتاب ,,شلېدلې آمېل،، څخه لاندینی غزل را اخلو :

"که ژوندی ومه هم،پښتو به کوم

که مړ کېــدمـــه هم، پښتو به کوم

مازي یوه پـــلا د بڅرکي غوندي

که برېښېـــدمه هم، پښتو به کوم

قسم په خدای که د پښتون په نامه

کـــه ګارېـــدمه هم، پښتو به کوم

د باد ومـــــخې تـــه د خلي په چم

که رغـــــړېدمه هم، پښتو به کوم

ترســــوري لاندي د اورونو شوقه

که اوسېــــــدمه هم، پښتو به کوم"(22)

د سوهېلي پښتونخوا د ښېین اوسېدونکی دی غزل يې رواني،موسیقیت او خاص آهنګ لري ،په فني او موضوعي اعتبار يې غزل یوه کتلې او پوره نمونه ده .په غزل کښې يې د ګڼو موضوعاتو تر څنګ د قومولۍ اړخ څرګند دی .د ده له کتاب ,,لونګین خیالونه،، څخه د بېلګي په توګه د غزل څو شعرونه را اخلو:

"خپل منزل ته په همت چې ځي په ټینګه

ګــــــته هغه څوک اکثره وړي په ټینګه

د بیــــــداره قومو دغه ښه عادت وي

چې د وخــت پابندي تل کوي په ټينګه"(23)

**عمرګل عسکر**:

عمرګل عسکر ليکوال ،صحافي او شاعر وود سوهېلي پښتونخوا د جديدغزل په ابتدايي دوران کښې د عسکر غزل د جديديت عکاسي کوي په فني او موضوعي اعتبار يې غزل پوره ده .د ده له شعري مجموعې ,,په دايره کښي کائينات،، څخه د يوې غزلې څو شعرونه د بېلګي په توګه ر اخلو او د قومولۍ تصور ځيني څرګنديږي :

"د لمحـــو په تېـــراند سفر کي ګير يم
زه د خـــپل وجـــود په برخو کي اسير يم
زولنـــــــــې تـــل د حالاتو شرنګومه
د تاريخ پـــــه هـــره پاڼه کښي تحرير يم
کج دستـــار مـــي خلګ بولي په ظاهره
په باطن صـــــــفت فقير يم خو امير يم
زما پښتو هم په کوړک او خېبر واورئ
د پښتون ولات د لر اوبر سفير يم"(24)

د سوهېلي پښتونخوا د جديد غزل په ابتدايي دوره کښې د سوهېل جعفر شاعري او بيا په تېره غزل د ګڼو موضوعاتو تر څنګ د قومولۍ تصور هم وړاندي کړی دی د ده په غزل کي د مضمون رواني، د فن ښکلا د الفاظو ترتيب او د شعر خوږلت دا ټول صفات يې له غزل څخه عبارت دي .د ده له شعري ټولګې ,,د ياد په جزيره کښي،، د يوې غزل په شعرونو کښي داسي ليکي :

"د ميني پېـــــغمبر يـــــــــم يوه ورځ به نړوم
جوړ شـــــــوي د نفرت دا دېوالونه کور په کور
هينـــــــــــــداره پښتنه ده دروغ نه وائي اشنا
بېل بېل د بې وسۍ ويني عکسونه کور په کور"(25)

په دې موضوع باندې مونږ تش د يو څو نماينده شاعرانو د جديد غزل نماينده شعرونه د حوالې په توګه را اخيستي دي که چيري مونږ په مجموعي توګه د سوهېلي پښتونخوا په غزل کښي د قوميت خبره کوو نو هيڅ داسي شاعر نشته چې هغه دي خپله غزل او اشعارد قوميت په رنګ کښي نه وي رنګ کړي . ځکه چې شاعر د ټولنې څخه الهام اخلي او ټولنه چې د وخت د کومو ستونزو سره مخامخ ده په هغه کښې د قوميت ، کلتور ،حقوق دا څو بنيادي شيان دي چې له ګواښ سره مخامخ دي نو ځکه مونږ په دې نتيجه رسيږو چې د سوهېلي پښتونخوا غزل د قوميت د ذکر بغير نامکمله ده.

**نتيجه/پايله**:

د قاميت تصور په هره ټولنه کي په يوه نه يوه بڼه شتون دزلودلی دی. د پښتو ژبې، ادب او سياست د څېړني څخه دا حقيقت را بر څېره کيږي چي دلته په يوه نه يوه بڼه د قامپالی تصورات په شعري يا نثري بڼه کي ځان څرګند کړی دی. البته خوشحال خان ختټک په خپل شعر او نثر کي د پښتنو د هويت، خپلواکی، وطن، او اولسونو د يووالي او د خپلو حالاتو د بدلون لپاره عملي مبارزه په تکرار سره په نظر راځي. په شلمه صدی کي چي کله په نړی کي د نوي يا جديد قاميت تصور رامنځته شو او په نړی کي د نوي قامي رياستونو د رغښت رجحان پېل شو، نو دلته په پښتني سيمو کي هم د قامي مبارزې شعوري او عملي سياسي مبارزې پېل شوې. پښتنو شاعرانو د وطن، خاورې، اولسونو، تاريخي او کلتوري ارزښتونو ته په خپلو شعرونو کي ځای ورکړی دی. د سهيلي پښتونخوا په انساني رشتو سره سره قوم به يوه شريکه ژبه لري او هم به د تاريخ په رڼا کښې يوه معلومه جغرافيه يا وطن لري . هم به يوه قومي حافظه(قومي نفسيات) لري .هغه حافظه يا نفسيات چې ددې قوم په کلتور ، روايات،تهذيب او تمدن کښې څرګند وي .قوميت يوه فطري جذبه ده.له خپل قوم سره تعلق درلودل قوميت دی ،خپل قومي تشخص ساتل قوميت دی ، د خپلې خاورې،ژبې او کلتورپالنه قوميت دی .د يوه قوم شاعر که چېرته د شعر د پاره الهام اخلي خو په خپل قوم کښې يې د خپل وطن،خاورې او کلتور څخه اخلي او بيا يې د قوم په ژبه بيانوي .

د پښتو جديد غزل شلمې پېړی څخه پېل کړی دی .غزل د شعري ژانر تر څنګ کلاسيکي علامات به نوې عواملو، په موضوعي لحاظ خپل کړي دي .هر اړخيز موضوعات د غزل د فن برخه ګرځېدلي دي .او هم پښتو جديد غزل د قومولی رنګ خپل کړی دی . د سوهېلي پښتونخوا جديد پښتو غزل هم په ځان کښې د ګڼو موضوعاتو تر څنګ غزل د قومولی موضوع ګرځېدلی دی .د غزل فني ترکيب پر خپل ځای پاته شوی دی يعني مطلع ،مقطع،رديف،قافيه او د شعرونو وزن،سيلاب،بحر او نور لوازمات هم هغه دکلاسيک غزل دي .خو د غزل په موضوعاتو کښې ګڼ موضوعات لکه رومانس،مزاحمت، مترقيت،فکري بيداري،جماليات،د خپلې خاورې انځور،د خپلې ژبې او اولس سره مينه او داسې نور موضوعات شتون لري .خو د قومولی څرک هم جوت او څرګند دی .چې د غزل ژبه د نورو ژبو له اثره تر ډېره حده پاکه ده او په ساده روانه پښتو هم دغه ټول ذکر شوي موضوعات بيان شوي دي .

## حوالې


1 – Smith, D. Anthony, (2010). Nationalism (theory, history-2nd edition). USA: Polity Press Street Malden MAO2148.p,9

2 – Eugene, Kamenka (1973). Nationalism: the nature and evolution of an idea: Canberra: Australian National University Press.p, 7

3. Smith, D. Anthony, (2010). Nationalism (theory, history-2nd edition). USA: Polity Press Street Malden MAO2148.p,50

4 – Kohn, Hans (uncertain), Nationalism (article): Accessed on 21/ 6/2022 //https:www.britanni.com.

5.هاشمي، دوکتورمحی الدین،(۲۰۱۸)،دخوشحال خان خټک کلیات،میهن خپرندویه ټولنه، پېښور-جلال آباد،مخ ۱۲۰

6.شینواری، امیر حمزه،(۲۰۲۲)پنځلسم ایډیشن، ادبي جرګه کتابکور، پېښور، مخ ۳۸

7.سلیم، سیف الرحمان،(۱۳۶۵)،سندریزشفقونه، دولتي مطبوعه، کابل، مخ ۳۷

8.مومند، قلندر،(۲۰۱۹)خلورم ځل، سباوون، قلندر مومند ریسرچ سیل، پېښور، مخ ۱۰۸

9.خټک، اجمل،(۱۹۶۴)،دغیرت چیغه، یونیورسټي بک ایجنسي، پېښور، مخونه ۱۰۲-۱۰۳

10. صابر، صاحب شاه،(۲۰۰۶م)، قومتونه قیامتونه، دانش خپرندویه ټولنه، پېښور، مخ ۱۳۰

11.سایل، رحمت شاه،(۲۰۱۴)،نرګس بیمار بیمار، دانش خپرندویه ټولنه، پېښور، مخونه ۶۹-۷۰

12.راز، سلیم،(۲۰۱۶)، ادب او تنقیدي مسائل، کلاسیک خپرندویه ټولنه، چاپ ځای پېښور، مخ ۵۶

13: ځلاند، طاهر،(۲۰۱۲)،د پښتو غزل تنقیدي جاج، ، دانش خپرندویه ټولنه پېښور، مخ ۷۸

14.ازمون، لعل پاچا.(۲۰۱۸).پښتو نظم پوهنه: د علومو اکاډمۍ او د کابل پوهنتون د ادبیاتو پوهنځی، کابل، مخ ۴۸۹

15. بریالی، عبدالکریم .(۱۹۸۴).لیکنځې: دبلوچستان د پښتو ادب زرکلن جاج، قلات پریس، کوټه، مخ ۱۲۹

16.راز، محمد راز،(۱۹۹۹).د صلیب په دائروکي ماتوزري زاني ژاړي، فکرنوادبي فورم، پښین، مخ ۱۰۵

17.ګوهر، سعید،(۲۰۲۲).په ایرو کي پټ انګار: سکام ادبي اکېډمي، کوټه، مخ ۱۰۲

18.ګوهر، سعید،(۲۰۲۲). په خیري لمن دکي اومېد : سکام ادبي اکېډمي ، کوټه، مخ ۲۰۸

19.درانی، دروېش،(۲۰۰۰).ستوري په لمن کي: کندهار پوهنتون د ژبو او ادبیاتو پوهنځی، کندهار، مخ ۲۰۱

20.همدغه اثر، مخ ۲۲۸

21.عارف، سید، خیرمحمد.(۲۰۱۲).د ہوالونه وینبن دي: پښتو ادبي ملګري بوری، مخ ۱۰۲

22.شوق، افضل.(۱۹۸۷-۸۸).شلېدلی امېل: یونائیټډ پرنټرز، کوټه، مخ ۳۴

23.اسیر، عبدالباري،(۲۰۰۸).لونګین خیالونه، شیدا یان پښتو ادب ، پښین، مخ ۱۲۱

24.عسکر، عمرګل،(۲۰۱۲).په دائره کي کائینات: ملګري لیکوال ، کوټه، مخ ۱۱۰

25.جعفر، سوهېل،(۲۰۰۴) .د یاد په جزیره کي ، سکام ادبي اکېډمي ، کوټه، مخ ۸۸